مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۱۱/۰۵

# د سپي وفاداری

ډیر کلنونه دمخه می یو خو کاله په یوه ځای کې چې سارا او بیدیا وه تیر کړل ،یو زما ښه دوست چې پر ما مهربانه وو ، ما ته یې یو لوی خالي انګړ د یو ډیر قوی هیکل غټ او ژوړ سپی سره راوسپاره ،چې زه په کې ژوند وکړم ،څو کاله می خپل ډوډی د سپی سره نیمایي کوله ،او سپی هم زما ساتنه د غلو نه کوله ،تر څو یو ورځې سپی ناروغه شو ،د ده په وجود کې یوه لویه دانه ختلې وه ،چې هغه ورځ په ورځې لویده ،او چینجي یې هم کړي وو ،د سپي تکلیف هم زیاتیده زه مجبوره شوم چې د ښاروړو طبیب ته مراجعه وکړم ، طبیب سره می ولیده او سپی هم ورته وښوده ،طبیب ووئیل : چې دا زخم ډیر خطرناکه دی ،او دا سپی نه جوړیږي ،او د ده ساتل هم په کور کې خطر ناک دی ، یاني باید چې له کوره وشړل شي ،او یا ووژل شي ،ما موضوع د کور د سپي مالک سره شریکه کړه ،هغه د ده د وژلو نه انکار وکړ ،او له ډیره رحمدلي نه یې دې کار ته زړه ښه نه کړ، چې هغه وفاداره سپی ووژني ،نو ماته یې توصیه وکړه چې له کوره یې وباسم ،او خوشی یې کړم ،ما هم دا کار وکړ ،خو سپی د کوره نه واته ،او ځان یې ټینګ کړی وو ، وروسته چې په دې پوه شو چې د ځه د پاره باید دا ځای پریږي ، نور یې ټینګار ونه کړ او په خپل مخه لاړ ،ډیره موده پس سپی راغی،د دخیلی پخواني پټي او مخفی لاری څخه انګړ ته راننوت ،په هماغه لاره چې هر کله به پټ راننوته ،سپی روغ رمټ وو ،نه پوهیږم چې په دې موده کې به ،د خپل خوراک او څښاک څرنګه کړي وي ،بیشکه چې خدای تعالی روزی رسوي او مهربانه ذات دی،زما خواته نژدې یو بل انګړ وو ،چې هلته هم یو ښه دوست اوسیده هغه راته ووئیل: چې په دې موده کې چې ستا سپی نه وو ،او ناروغ وو ،سپی به دشپی راته او ستا د کور مخې ته به یې پیره کوله ،او د مخه له دې چې سپیدې وچوي او سهار شي او څوک د ده د حضور نه خبرشي سپی به بیرته سارا ته ولاړ ،او دا ما په کراتو لیده چې سپی دا کار کاوه ،نو وايي ما د دې خبرې نه د خودی سخت تکان وخوړ او د خپل عمل نه چې دی به می په زوړونو د کوره څخه ایسته پښیمانه شوم ،او د ځانه سره وشرمیدم ،او د سپی دې حده پوری وفاداری

ته چې می پام شو دا هم راته شرم ښکاره شو چې بل انسان ته سپی خطاب وکړم ،او د سپی نوم په بده واخلم ،ځکه د مینې محبت او وفاداری په لاره کې سپی زما ډیر ښه استاد شو ،او ما د مینې او محبت درس ترې واخیست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ